بسم الله الرحمن الرحيم

## د نجومي شمار پر اساس د میاشتې معلومول جواز نه لري

**پوښتنه:**

اسلام علیکم ورحمت الله و برکاته!

الله تعالی دې په عمر کې برکت واچوه! د نجومي د شمېر پر اساس د میاشتې پېژندلو نه جواز ځواب مې ولوست، خو یوه بله موضوع پاتې ده چې واضیح کوم یې؛ ځینې کسان چې د میاشتې له نه لیدلو ډاډه شي، بیا د نجومي پر حساب باور کوي. یعنې که حساب سم وي، نو د هلال حساب ته ارزښت نه ورکوي او که چېرې څوک ووایي چې هلال مې لیدلی، د هغه خبرې ته د شک په سترګه ګوري او شهادت یې ردوي.

دې مسالې ته ورته نظریات مې د اسلامي تاریخ په کیسو کې هم لوستي، چې د یوه شخص شهادت به نه قبلېده. یو له هغو کسانو چې په دې عقیده دی د (الابهاج في شرح المنهاج) د فقهي اوصولو کتاب لیکونکی امام قاضي تقي الدین علی بن عبدالکافي سبکي دمشقي دی، چې ده دا لیدلوری او ځینې نور حوادث په دې کتاب کې د (میاشتو ثابتولو منشور نښې) تر عنوان لاندې بیان کړي دي. پخوا د نجوم علم پوهانو اعلان کړی وو؛ تر هغه چې لمر ونه لوېږي، میاشت نه معلومېږي او وروسته یې په هماغه ماښام د میاشتې له داخلېدو خبر ورکړ.

په دې اړه موږ ته توضیحات راکړه، الله تعالی دې برکتونه نصیب کړه او ستا په وسیله دې بریا رامنځته شي.

**ځواب:**

وعلیکم سلام ورحمت الله و برکاته!

له نجوم پرته د میاشتې د لیدلو په اړه زما پخوانی ځواب واضیح او هر اړخیز و، تاسو وویل چې له هغې خبر یاست، نو اوس تاسو ته داسې ځواب درکوم:

ګرانه وروره! لکه څنګه مې چې په مخکیني ځواب کې واضیح کړي و؛ د روژې میاشتې او کوچني اختر په اړه د هلال لیدل شرط دي:

**«صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ»**

*__ژباړه:__ د هلال په لیدو روژه ونیسه او ماته یې کړئ.*

الله تعالی موږ د نجومي له حساب او د شاهدانو له شهادت څخه منع کړي یو. دغه راز رسول الله صلی الله علیه وسلم دا برخه راته واضیح کړې، خو د شاهد د شاهدۍ ثابتولو دنده د قاضي ده، چې له شاهد سره خبرې کوي، د هغه د لیدلو له حس او چاپیریال له صحت څخه ځان ډاډه کوي. په دې مانا چې د دې مسالې د اثبات لپاره له ټولو وسیلو او بشري هڅو ګټه اخلي. قاضي د میاشتې لیدلو له مدعي سره داسې بحث کوي، چې د هغه له سترګې وېښته لرې کوي او بیا ورته وایي کوم دی هلال؟ په داسې حال کې هغه هلال نهویني. مطلب دا چې ټول شکونه له منځه وړي.

د میاشتې په پیل او نه پیل کې د نجومي د حساب مداخله ارزښت نه لري، ځکه موږ د میاشتې د پیل د حقیقت پر بنسټ نه بلکې د هلال پر بنسټ روژه نیسو او په دې اړه زیات صحیح احادیث شته، لکه دا حدیث چې بخاري روایت کړی دی:

**حَدَّثَنَا آدَمُ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ زِيَادٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَوْ قَالَ: قَالَ أَبُو القَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ، فَإِنْ غُبِّيَ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا عِدَّةَ شَعْبَانَ ثَلاَثِينَ»**

*__ژباړه:__ یوه کس راته وویل، چې شعبه له محمد بن زیاد څخه رانقل کړي، چې هغه وویل: له ابو هریره رضی الله عنه څخه مې واورېدل، چې ویل یې: نبي یا ابوالقاسم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د هلال په لیدو روژه ونیسئ او ماته یې کړئ، خو که چېرې درته مالومه نه شوه، نو د شعبان دېرش ورځې پوره کړئ.*

د دې حدیث مانا دا ده، چې ځینې وخت هلال وي، خو د ورېځو شاته پټ وي، نه ښکاري، نو دېرش ورځې باید روژه ونیسو.

ګرانه وروره! دا واجبه ده، چې په هغه نص عمل وکړو، چې د هلال لیدل یې شرط ګرځولي دي.

په دې اړه هغه کیسه یاد ته راغله، چې څو کاله مخکې یوه غونډه جوړه شوې وه، داسې غونډه چې فکر کېده اسلامي کنفرانس، یا د اسلامي علماوو کنفرانس او یا هم دېته ورته څه دي. په دغه غونډه کې ځینو داسې وړاندیز کړی و، چې په دېرشمه ورځ دې الوتکه له ورېځو پورته والوزول شي او هلال دې وکتل شي.

الله تعالی د عبادت لپاره وسایل ښودلي او هماغه باید لازم وګڼو. موږ باید کار دومره پېچلی نه کړو، چې ستونزې راته جوړې کړي؛ په داسې حال کې چې الله تعالی موږ ته اساني غواړي، نه سختي:

**﴿...يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ...﴾**

(البقره: 185)

***ژباړه:*** *الله تعالی ستاسو لپاره اساني غواړي، نه سختي.*

د (يُسر) کلیمې موخه له اسلام سره سم د شرعي احکامو پیروي ده.

دغه راز د نجوم علم پوهان له لمر لوېدو وروسته ساعتونو په اړه د نظر اختلاف لري، چې هلال پکې راڅرګندېږي. کله وايي هلال باید د شمېر پر اساس ولیدل شي، ځکه ځینې وخت هلال په یوه ځای کې لیدل کېږي او په بل کې نه. دغه راز په ځینو ځایونو کې له لمر لوېدو وروسته دوې دقیقې او په ځینو ځایونو کې پنځلس دقیقې پاتې کېږي... .

نو دې میاشتې د پیل معلومولو لپاره د نجومي حساب بې ځایه زحمت دی او الله تعالی هم موږ ته د هغه په اړه امر نه دی کړی، بلکې په دې اړه واضیح او صریح نصوص راغلي او بدلون نه مني.

**ستاسو ورور عطاء بن خلیل ابو الرشته**